په افغانستان کې
**د ملګرو ملتونو** مرستندویه پلاوی

**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړې استازې د مرستیالې، جورجیت ګانیون راپور**

**کابل، ۲۰۲۶ کال د سپټمبر ۱۶مه**

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوی]

ښاغلی رئیس،

واکمنو چارواکو تېره میاشت، بیاځلې واک ته د رسېدو پنځمه کلیزه ونمانځله.

هغوی پر ټول هېواد د کنټرول، د امنیت د ښه والي، د زیربناوو د پراختیا او د اقتصاد د ثبات لپاره د هڅو په یادولو سره، دا چارې د خپلې بریا د بېلګو په توګه وړاندې کړې او پر ځان یې باور څرګند کړ. هغوی همدارنګه د ادارو د لا زیاتې روڼتیا او حساب ورکونې د ښه کولو لپاره یو نوښت پیل کړی دی.

دا پرمختګونه هیله بښونکي دي.

خو دا پرمختګونه داسې مهال رامنځته کېږي چې د هغو موضوعاتو په برخه کې هېڅ پرمختګ نه دی شوی چې د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې لپاره ژورې اندېښنې راولاړوي: لکه پر ښځو او نجونو سخت محدودیتونه، د خلکو له ګډون پرته حکومتولي، د بشري حقونو بحران، او د هغو ترهګرو ډلو دوامداره حضور چې افغانستان، سیمې او نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پېښوي.

دې شورا ته زما له تېرې وینا سره سم، زموږ ارزونه دا ده چې واکمن چارواکي له کوم ستر وسله وال یا سیاسي ګواښ سره مخ نه دي. خو د هېواد ثبات ته مهم خطرونه په زیاتېدو دي او تر ډېره د همدغو واکمنو چارواکو د خپلو تګلارو له امله دي.

په بدخشان کې وروستۍ پېښې دغه خطرونه څرګندوي. که څه هم وسله والو نښتو، لکه څنګه چې د سرمنشي په راپور کې تشریح شوي، د واکمنو چارواکو کنټرول ته ګواښ ندی پېښ کړی، خو دا ښیي چې کله سیمه ییزې ټولنې له پرېکړو، د سرچینو له وېش او اقتصادي فرصتونو څخه بې برخې شي، څه ډول وضعیت رامنځته کېدای شي.

بدخشان ته زما د وروستي سفر پر مهال راته خلکو وویل چې هغوی فرصتونه، بنسټیز خدمتونه، زده کړې او د خپلو ماشومانو لپاره راتلونکې غواړي، نه محرومیت.

په تېرو درېیو میاشتو کې په هرات ولایت کې رامنځته شوې پېښې هم د اندېښنې وړ وې. یوناما د واکمنو چارواکو د لباس د اصولو د جدي تطبیق په تړاو د ښځو او نجونو د نیولو پېښې مستندې کړې دي. له هغې وروسته خلکو لاریونونه وکړل چې پر وړاندې یې له زور او ځواک څخه استفاده وشوه. واکمن چارواکي لا هم ښځې، د تېرې اوونۍ په ګډون، د دوی د ادعاوو له مخې د لباس له اصولو څخه سرغړونې له امله نیسي.

یوناما د هېواد په کچه پر اقلیتي ټولنو د فشار زیاتوالی، د رسنیو د مرکزونو تړل، او د خبریالانو نیول او ګواښل هم مستند کړي دي.

دغه پېښې د جبري ټولنیز نظم د هغې پراخېدونکې لړۍ برخه ده چې ګڼې ټولنې له واکمنو چارواکو څخه پردۍ کوي. یوناما په کابل او خپلو ولایتي ساحوي دفترونو کې له واکمنو چارواکو سره د دغو مهمو اندېښنو په اړه خبرې کوي.

ښاغلی رئیس،

یوناما روانه میاشت د افغانستان د څو لسیزو جګړو د قربانیانو د تجربو په اړه یو راپور خپور کړ. په افغانستان کې له هغو کسانو څخه چې موږ ورسره مرکې کړې، پنځه نوي سلنه یې ویلي چې لا هم له رواني او عاطفي زیانونو، لکه ژور خپګان، اضطراب، رواني او فزیکي صدمو او د تېرو پېښو له ناڅاپي بیا یادېدو سره مخ دي. ډېری کسان لا هم له معلولیت، دوامدار درد او د عاید سرچینو له لاسه ورکولو سره سره، خپل ژوند پرمخ وړي.

دغه موندنې موږ ته را یادوي چې سوله یوازې د وسله والې جګړې نشتون ته نه وایي؛ بلکې تلپاتې سوله عزت، ګډون، فرصت او هیلې ته اړتیا لري.

ډېر افغانان موږ ته وایي چې د تېرو پنځو کلونو نسبي ثبات هغوی ته د آرام ساه اخیستو یو ښه فرصت برابر کړی دی. خو هغوی دا هم وایي چې د واکمنو چارواکو د سختو ټولنیزو تګلارو او د افغانستان د نازک اقتصادي او بشري وضعیت له امله له یې ژوند له کړاوونو سره مخ دی.

که څه هم افغانستان تر یوې کچې لوی اقتصادي ثبات ساتلی، خو دا د اقتصادي احیاء په مانا نه دی.

اقتصادي وده نه له مخ پر زیاتېدونکې نفوس سره برابره نه ده او نه یې د مرستو کموالی جبران کړی دی. د هر وګړي سرانه عاید ۵،۶ سلنه راکم شوی او صادرات هم کم شوي دي. افغانستان لا هم پر وارداتو خورا متکي دی، او د پولو بندښت او پراخې سیمه ییزې بې ثباتۍ د کورنیو د خرید قوت کمزوری کوي.

د خوړو ناامني او خوارځواکي جدي اندېښنه ده. یونیسف راپور ورکړی چې شاوخوا ۳،۷ میلیونه ماشومان د ناکافي تغذیې له امله له خوارځواکۍ سره مخ دي، چې له دې ډلې نږدې یو میلیون ماشومان پر شدیدې حادې خوارځواکۍ اخته دي.

د ۲۰۲۶ کال د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان یوازې ۳۰ سلنه تمویل شوی دی. بشري سازمانونه اړ دي چې په دې اړه سختې پرېکړې وکړي چې چېرته فعالیت وکړي، چا ته ورسېږي او کوم خدمتونه وساتي .

روغتیایي مرکزونه، د تغذیې مرکزونه، د ښځو د خوندیتوب خدمتونه او نور اړین پروګرامونه د تمویل د کمښت له امله تړل شوي یا یې فعالیتونه محدود شوي دي.

په ورته وخت کې، افغانستان لا هم له خورا سخت وګړنیز او ټولنیز-اقتصادي ټکان سره مخ دی.

یوازې سږ کال نږدې ۱،۲ میلیونه افغانان له پاکستان او ایران څخه راستانه شوي، چې له ۲۰۲۳ کال راهیسې د راستنېدونکو ټولیز شمېر ۶،۵ میلیونو ته رسېدلی دی.

که له راستنېدونکو او کوربه ټولنو سره دوامداره مرسته ونه شي، پر محدودو سرچینو سیالي به د شکایتونو د راپورته کېدو، د بې ځایه کېدنې د پراخېدو او د بې ثباتۍ د لا زیاتېدو خطر رامنځته کوي.

د کوکنارو پر کښت د واکمنو چارواکو بندیز یو مثبت اقدام و چې د کښت کچه یې په پراخه کچه راټیټه کړې ده، خو د اقتصادي فشارونو له امله د کوکنارو د کښت د بیا زیاتېدو خطر لا هم شته.

د بدیلو معیشتي لارو لپاره پراخ ملاتړ ډېر مهم دی، همدارنګه د افغانستان له خلکو سره دوامدارې او د اصولو پر بنسټ بشري او پراختیایي مرستې هم اړینې دي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان په اړه هېڅ بحث د ښځو او نجونو موجوده محرومیت له پامه نشي غورځولی.

د یوې افغانې مېرمنې خبرې، چې موږ په کندهار کې ورسره ولیدل، د هغوی تجربه بیانوي. زه یې دغه خبرې دلته کټ مټ رانقلوم:

*"موږ یو حکم عملي کړی نه وي، چې بل وریسې راشي؛ هغه ښځې چې حجاب اغوندي، ورته ویل کېږي چې ماسک هم واچوئ؛ هغوی چې ماسک اچوي، ورته ویل کېږي بُرقه واغوندئ؛ هغو ښځو چې بُرقه یې اغوستې وي، د محرم د نشتون پوښتنه ترې کېږي؛ او له هغو ښځو سره چې محرم وي، له هغه سره د دوی د اړیکې پوښتنه ترې کېږي".*

واکمن چارواکي زده کړو، مسلکونو او عامه ژوند کې د ښځو د ګډون په منع کولو سره، د افغانستان راتلونکې نه خوندي کوي؛ بلکې هغه ورتیا او تولیدي ځواک محدودوي چې له جګړې وروسته د بیا احیاء لپاره اړین دي. دا چاره د یوه سوکاله، پر ځان بسیا او خپلواک افغانستان له هغې اعلان شوې لیدلوري سره په ټکر کې ده چې نړیواله پانګونه راجلبولی شي.

روانه میاشت یو کال پوره کېږي چې افغان مېرمنې، د ملګرو ملتونو د افغان ښځینه کارکوونکو په ګډون، د ملګرو ملتونو دفترونو ته له ورتګ څخه منع شوې دي.

دا د ملګرو ملتونو له اصولو سرغړونه او د عملیاتي چارو پر وړاندې یو جدي خنډ دی. بشري فعالان وایي چې ښځو او نجونو ته د مرستو په رسولو کې له ستونزو سره مخ دي. یوازې د نارینه وو له لارې د مرستو او خدمتونو رسولو بڼه د افغان ښځینه کارکوونکو د ګډون ځای نه شي نیولی، او سازمانونه نه شي کولای له ښځو سره سلا مشوره وکړي، خطرونه وارزوي، یا ډاډ ترلاسه کړي چې مرستې تر هغو کسانو رسېږي چې تر ټولو ډېره اړتیا ورته لري.

د تمویل کمښت دغه ستونزه نوره هم پسې سختوي. په تېر کال کې د افغان ښځو په مشرۍ د نړدې درې پر څلور برخې سازمانونو تمویل کم شوی، په داسې حال کې چې له اتیا سلنې ډېر یې د ښځو او نجونو د اړتیاوو له زیاتېدو خبر ورکوي. سره له دې چې افغان مېرمنې له یې ساري محدودیتونو سره مخې دي، د هغوی لپاره نړیوال ملاتړي میکانیزمونه هم ورځ په ورځ کمېږي.

په ټول افغانستان کې افغان ښځې موږ ته وایي چې د نړیوالې ټولنې تعامل، مرستې او ملاتړ هغه څه دي چې دوی یې "د هیلې څرکونه" بولي. موږ له نړیوالو شریکانو غواړو چې د افغان ښځو او نجونو ملاتړ ته لومړیتوب ورکړي.

تر ټولو مهمه دا چې، موږ یو ځل بیا له واکمنو چارواکو غواړو چې پر ښځو او نجونو ټول لګول شوي محدودیتونه لرې کړي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې لا هم یوه بله جدي اندېښنه ده چې پر ځای پاتې ده.

د وخت ناوخت نښتو او نږدې یو کال راهیسې د پولې د تړل کېدو اغېزې ملکي وګړو، ټولنو او کاروبارونو ته مخ پر زیاتېدونکي زیان اړوي.

یوناما د اختلافاتو د حل لپاره، دواړه لوري د تاوتریخوالي کمولو او خبرو اترو ته هڅوي، چې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو د حضور موضوع هم پکې شامله ده، چې د بندیزونو د څار ډلې یې هم په خپل راپور کې یادونه کړې ده. موږ د سیمې د منځګړیتوب د روانو هڅو هرکلی کوو.

ښاغلی رئیس،

لکه څنګه چې د کډوالو عالي کمېشنر او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام مشر په ګډه د جولای په میاشت کې افغانستان ته د دوی د سفر پر مهال خبرداری ورکړ، چې په افغانستان کې رامنځته کېدونکې بدلونونه چې یوازې په افغانستان کې محدود نشي پاتې کېدای. بې ثباتي، د بې ځایه کېدنو او له هېواده د وتلو زیاتوالی، افراطیت، او مخ پر زیاتېدونکې ناامني سیمه ییزې او نړیوالې پایلې لري.

دوامداره نړیوال تعامل، د دوحې بهیر په ګډون، لا هم اړین دی. اوس مهال د دوحې بهیر هغه څو اړخیز چوکاټ دی چې له لارې یې دا تعامل ترسره کېږي او موخه یې د نړیوالو مکلفیتونو او ژمنو د رعایت پر بنسټ له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان بېرته یوځای کېدل دي.

د واکمنو چارواکو، نړیوالې ټولنې او په پراخه کچه د افغان ښکېلو اړخونو ترمنځ دغه منظم تعامل مهم موضوعات او دریځونه روښانه کړي، د خبرو اترو ساحه یې پراخه کړې او په ځینو برخو کې یې د باور فضاء رامنځته کړې ده.

د پرمختګ پر وړاندې اصلي خنډ دا دی، چې واکمن چارواکي د څو اړخیز تعامل پر ځای دوه اړخیزو لارو ته ترجیح ورکوي، ځکه هغوی څو اړخیز تعامل د خپل حاکمیت د ټینګښت ادعاوو کمزوری کوونکی ګڼي. خو هغوی لا هم د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزې او خصوصي سکتور په کاري ډلو کې ګډون کوي او د ځینو مهمو سیاسي موضوعاتو په اړه تعامل لري.

اوس اړتیا ده چې واکمن چارواکي د نړیوالې ټولنې پراخو اندېښنو ته د ځواب لپاره خپله اراده څرګنده کړي. د دې کار د ترسره کولو لپاره، هغوی کولای شي د ټولګډونه حکومتولۍ او پر ښځو او نجونو د محدودیتونو د لرې کولو پر لور ګامونه واخلي، او وښيي چې د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې خپلې کړې ژمنې پوره کوي.

غړي هېوادونه کولای شي دا پیغام پیاوړی کړي چې په نړیوال نظم کې د افغانستان بېرته ورګډېدل د اساسي، متوازنو او مرستندویه ګامونو له لارې شوني دي، او دا هغه ګامونه دي چې پیل یې د بیا ادغام مخه نیوونکو کلیدي ستونزو له حل څخه کېږي.

ښاغلی رئیس،

موږ د اصولي او عملي تعامل پر ارزښت لا هم باور لرو. دا تعامل د مهمو مسائلو او اندېښنو په اړه خبرې اترې دوامداره ساتي، خپل اغیز ساتي، خطرونه راکموي، د پرمختګ فرصتونه برابروي او تر ټولو مهمه دا چې، د افغانستان د خلکو له اړتیاوو او هیلو ملاتړ کوي.

له تاسو مننه.

***

Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org